عبدالکریم رحیم

۲۰۱۹/۰۲/۰۵

# د مؤقت حکومت د جوړولو په هکله
## د افغانی میډیا او د افغان سیاستمدارانو غیر مسؤولانه دریځ

د افغانستان بدبختی په دی کی ده چی قومی او سیاسی ایلیت (elite) یې بهرنیانو اخیستی دي او د همدې امله د ملی ګټو مفهوم او د هیواد پالنې او ملت پالنې مفکوره ورسره نشته. او ددې دلیل دا دی چی دا خلک خپلو شخصي ګټو ته پر ملی منافعو ترجیح ورکوي. څو ورځی مخکی د پاکستان په حضور او د افغان حکومت په نه موجویت کی د امریکا او طالبانو ترمنځ د شپږ ورځنیو خبرو وروسته د امریکا خاص استازی خلیلزاد وویل چی دوی او طالبان سره یوې موافقی ته رسیدلي دي. ددی توافق یو مهم ټکی د افغانستان نه د امریکا د ځواکونو وتل دي او بله مهمه موضوع یی داده چی طالبان به القاعده او داعش ته دا اجازه نه ورکوی چی د افغانستان د خاوری څخه د امریکا او د هغې د متحدینو پر ضد ترورریستی عملیات وکړي. لکه طالبان چی د افغانستان حکومت وي.

**دا به پر ځای پریږدو چي طالبان څوک دي چی د افغانستان په نمایندګی دا وعده امریکا ته ورکوي. پر څه چی زه غواړم منهمک شم هغه ددی موافقی په باره کی د افغانستان د اوسنی اولسمشر اشرف غنی اوه دقیقه ایی وینا او د بهرنی او کورنی میډیا له خوا ددې وینا منعکس کول او د افغانستان د سر سر سیاستمدارانو عکس العمل دی.**

اشرف غنی وویل: «ما به خاطری به این [موضوع] تأکید می کنیم که ما از تجربهٔ زمان داکتر نجیب الله آگاهی کامل داریم. ما همه می دانیم که باو چگونه فریب داده شد. ملل متحد به وی تضمین تأمین صلح داده بود اما متأسفانه به فاجعه انجامید. من به حیث یک [شخص] مسؤول و رئیس جمهور منتخب از نقش فعلی منطقه و جهان آگاهی دارم و اینرا هم می دانم که خطر ها و تهدید های بعد از صلح کدام خواهند بود.»

ډاکټر نجیب الله ته ویل شوی وو چی دی به د ریاست جمهوری د مقام نه استعفی وکړی، د بیطرفو اشخاصو یوه انتقالی اداره به جوړه شي او دا اداره به انتخاباتو ته زمینه برابره کړی. البته دده ګوند به په ټاکنو کي برخه اخلي. نجیب الله تل په پېښور کی میشتو افغاني تنظیمونو ته ویل چی راځئ چې انتخابات وکړو او دا به یی لا هم ور زیاته کړه چې تاسې یې ګټی. خو هغوی نه منله ځکه چی پردو اجازه نه ورکوله. خو کله چی نجیب الله د ملکرو ملتونو په منځګړیتوب د دولت د ریاست نه ځان ګوښه کړ نو دسیسي جوړې شوې، په نتیجه کي مرکزی حکومت له منځه لاړ او جګړه پیل شوه چی تر اوسه روانه ده. د کابل د ښار



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

زیاته برخه ورانه شوه او د ۵۰،۰۰۰ نه تر ۷۰،۰۰۰ تنه کابلیان ووژل شو. اشرف غنی د داسی پېښو د تکرار نه ویره لری او نه غواړی چی دی هم د سولی په نامه داسي وغولول شي چي تأریخی بدنامی یي نصیب شي. دا د هغه د وینا اصلی ټکی دی.
بهرنی میډیا لکه بی بی سی، د المان غږ او د آزادی راډیو ددې وینا یوازې هغه برخه یاده کړه چی د داود خان پر ضد د ۱۳۵۷ کال د ثور د اوم د کودتا او د هغې وروسته فاجعی په باره کی وه. د آزادی د راډیو تمرکز د خلیلزاد په خبرو و. دا چي د ډاکټر نجیب الله او بینان سیوان تر منځ پر څه روغه شوې وه او څنګه هغه ته دوکه ورکول شوی وه د هغی نه یی شیر غلت وواهه.
د نجیب الله د رژیم کامل اضمحلال د امریکا او د هغه د متحدینو هدف و. د مجاهدینو د پاره د ریګن استازی پیټرټامسن هغه وخت سینهوا ته وویل چی مجاهدین به د نجیب الله رژیم په زور نسکوره کړي. د بهرنی میډیا نه ګیله نه شی کیدلی ځکه چی دا د ضد اطلاعات (disinformation) دستګاهګانی دي او هدف یی دادی چي د نورو هیوادونو د خلکو په نظریاتو تأثیر وکړي.
خو د کابل میډیا چی باید خلک د پېښو نه د افغانستان د ملي ګټو په نظر کی نیولو سره خبر کړی ډیر د تقبیح وړ دریځ غوره کړ. دوی علناً د بهرنیو د دریځ ملاتړ وکړ. مثلاً د افغانستان د حکومت او ملت او د یو حاکمیت لرونکي او مستقل هیواد پر ځای د یک ټلویزیون خبریال د کابل ایلیټ مطرح کوی. مطلب یی دا دی چی په کابل کي موجود قدرتمن کسان، نه افغان ملت، د طالبانو سره ستونزه لري. د شمشاد تلویزیون چی مالک یی د اشرف غنی مشاوره هم دی د طالبانو او د حکومت تر منځ پر یو خبری توازن اتکا درلوده. او د طالبانو پر ضد د حکومتی قواو له خوا د زیاتیدونکو عملیاتو په باره کی داسي نګراني ښکاره کړه: نظامی شنونکی وایي چي د جنګی عملیاتو د زیاتوالی نه به د سولی پروسي ته تاوان ورسیږي. پژواک خبری اژانس ددی نه هم لا وړاندې ځی او وایی: «نامبرده [غنی] از داکتر نجیب الله رئیس جمهور پیشین یادآوری کرد که ملل متحد با وی تعهد نموده بود ولی محافظت درست از وی نکرد و در نهایت کشته شد». مطلب داچي اشرف غنی د امریکا او طالبانو تر منځ د روغي جوړی سره په دی دلیل مخالفت کوی چی د خپل سر غم ور سره دی چي ګواکی دی به هم د نجیب غوندی ووژل شي، نه د سولی د تأمین او د مؤقت حکومت د جوړیدو په صورت کي په هیواد کی د ناتار حاکم کیدلو او د یوی ستري فاجعی د منځته راتګ په خاطر.
دوی ملامته نه دی ځکه چي امریکا په افغانستان کي میډیا ته په لومړی سر کي ۷۰ ملیون ډالر ورکول او په ۲۰۱۰ کال کي دا مقدار ۳۰ ملیون ډالرو ته را کم کړ. د میډیا مالیکینو خپل اداري لګښتونه د دي مرستی څخه پوره کول او د اعلاناتو له درکه ګټلي پیسي ددوی شخصی جیبونو کی ولیدلی. د اعلاناتو د درکه د میاشتی د دوی عاید د ۱۵۰،۰۰۰ نه تر ۴۰۰،۰۰۰ ډالرو پوری و. نو دوی باید داسی څه و نه وایی چي امریکا پرې خپه کیږي.
ددی لا هم بدتر د اشرف غنی د مخالفو سیاستمدارانو دریځ دی. حکمتیار چی د ۱۳۷۱ کال د انتقالی حکومت د خدعی اصلی قربانی و داسی وایي: «طالبان که د اوسنی حکومت سره خبرو ته اماده نه وی، او غواړي چی د یو بیطرفه حکومت سره مذاکرات وکړی نو ښه خبره به وي چي اوسنی حکومت له منځه یوړل شي او داسی موقت حکومت را منځته شي چی د ټولو د منلو وړ وي.» حکمتیار لا زیاتوی چي دا حکومت مشروعیت نه لری. اوس خو د ده څخه دا پوښتنه کیدلی شي چی تا ولی د دې «نا مشروع» حکومت او د هغه د مشر اشرف غنی سره د سولی او جوړاوی موافقه لاسلیک کړ. که دا حکومت هغه وخت چی تا ورسره روغه کوله مشروع و نو اوس څنګه مشروعیت نه لري. کله چي حکمتیار کابل ته راغی ده په مکرر شکل دا ویل چی غواړی دا اوسنی نظام وساتي. اوس یي ولې په ورانولو پسي دی. څرنګه چی د قطر خبری د پاکستان خبری دي او د دې هیواد په ګټه پر مخ بیول کیږی نو داسي برېښي چی د حکمتیار صاحب یارانه لا اوس د پنجابیانو سره ده او د هغوی د خوشالولو د پاره یی د زمونږ د وروستی تاریخ ترخی پېښي چی ده ته په کي شخصاً ډیره صدمه رسیدلي ده هیرې کړي دي. دده د ګوند اضمحلال د طالبانو/پاکستان لومړی هدف و.
د پخواني ولسمش، کرزي، دریځ هم په دی مورد کي مبهم دی خو د مؤقت حکومت څخه د پلوی دریځ یی د افغانیتان د پاره خطرناک دی. په افغانستان کی د سولی د موضوع په سر دده او د امریکاییانو تر منځ کلک اختلاف شتون درلود تر دې حده

چې ده د امریکا سره د دوه اړخیزه امنیتی موافقه لیک د امضاء کولو څخه ډډه وکړه. هغه وخت دده دا کار سم و چې امریکا ته یی وویل چې که زما په هیواد کې هده غواړی نو دلته به لومړی سوله راولی.

د څو کلونو را هیسې د افغانستان په سیاست کې یو اوڅار لوبغاړی او جمهوری ریاست ته په راتلونکو انتخاباتو کی کاندید حنیف اتمر هم اشرف غنی د سولی د خبرو په سبوتاژ کولو تورن کوي او وایی: «حکومت ددې پر ځای چې د روانو مذاکراتو په اړه هیله بخښونکې څرګندونې وکړي ددې پروسې د سبوتاژ او په خلکو کې د ویرې خپرولو کوشش کوي. حکومت نه شي کولی چې د سولی روانه پروسه سمه رهبری کړی.» د حنیف اتمر د خولې نه چې د ډاکټر نجیب الله په وخت کی د خاد په بد نامه اداره کې رئیس و او په ټولو جریاناتو ښه خبر دی د داسې وینا راوتل حیرانونکې دي. دی خو یا د سولی په معنی نه پوهیږی او یا خو په افغانستان کې د ګډوډی د بیا راتګ او پر افغانستان د طالب په نامه د پاکستان د حاکمیت سره مخالف نه دی. دی ښه پوهیږي چې د طالبانو په وخت کی د افغانستان د بهرنیو چارو په وزارت کی پاکستانیان ناست وو. د افغانستان د اردو د فرقو قوماندانان پاکستانیان وو. زه اقلاً مؤثق خبر یم چې ملا نیک محمد وزیر چې بیا امریکا د پاکستان په اشاره په ژوب کی د خپلی کورنی سره وواژه په قرغه کی د اتمی فرقې قوماندان و. په افغانستان کې د تجارتی معاملاتو سعر پاکستانی روپی وه. د افغانستان بهرنی سیاست کاملاً د پنجابی جنرالانو په لاس کې و. لنډه داچې په افغانستان کی د پاکستان راج چلیده. په اجتماعی مسایلو کې طالبانو د لمونځ ګزارانو څخه د جومات په منځ کې امتحان اخیسته، په سرکونو به یې د افغانانو محجوبه ښځې په درو وهلی او اهانت به یی ورته کاوه. د علم او د دنیا د پرمختګ نه بیخبره وو او دي. پر افغانستان دداسی خلکو حاکم کیدل به ستره تأریخی ابتلا وي.

خو اتمر صاحب خپل پوستین ډیر ځله بدل کړی او دا وینا به یی هم د ولسمشر کیدو په هیله د امریکا د خوشالولو د پاره کړې وي خو که امریکا او پاکستان طالبان بیرته په افغانانو حاکم کړی دا ارمان به یې هم پوره نه شي. اوس یې د هغه نظام په ورانولو پسې پښې لوڅې کړې دي چې ده یې ځان د هغه د ولسمشر کیدو د پاره کاندید کړی دی.

چې خبرې لنډې کړو نو باید وویل شي چې د افغانستان د اوسنی ادارې (ښه ده که بده) پر ځای د یو مؤقت حکومت جوړول به په افغانستان کی د جګړی د ادامې په معنی وي. او هغه په دې ډول چې ددې ادارې د ړنګیدو سره سم به د افغانستان اردو د تشتت او بالاخره انحلال سره مخامخ شي نو «مؤقته اداره» به د خلکو او د ځان د امنیت د ساتلو د پاره ځواک و نه لري. طالبان به یوازینی ډله وی چې مسلح افراد به یې په اختیار کې وي. دا ډله به د پاکستان په نظامی همکاری په لنډه موده کی مؤقته اداره له منځه یوسی او په انحصاری شکل به واک په لاس کې واخلي. هیره دې نه شي چې کله چې طالبان په کندهار را ننوتل نو د پاکستانی ورځپانو په وینا یوه شپه مخکې د هغه هیواد پوځ د چمن نه په سپین بولدک د توپچې سخته حمله وکړه تر څو د هغه ځایه د حزب اسلامی مسلح افراد وباسي. دا کار دا خبره ثابتوی چې د میډیا د ادعا خلاف طالبان د برهان الدین ربانی د قوله د ازالی منکرات د پاره د میوند په ولسوالۍ نه بلکه د پښتونخوا په چراټ کی جوړ شوی وو. د طالبانو په اداره کی به د ملی شورا ځای د علماو شورا ونیسي، یعنی د هغه کسانو شورا چې ټول علم یې یولس کتابه دی چې هغه هم ټول په عین موضوع بحث کوی.

نو که دا د بهرنیانو شریکه پروژه - د طالبانو بیا برسر اقتدار کول - عملي شي نو د افغانستان ملی حاکمیت او حتی ارضی تمامیت به له منځه لاړ شي او کلونه کلونه به د وروسته پاتی توب او جهل په تیارو کې پروت وی. نو د داسې پېښې د کیدلو د مخنیوی د پاره د اوسنی ادارې ساتل حیاتی اهمیت لري. او څوک باید د سولی په بهانه د پردو په خبرو دوکه نه شي. که بین الافغانی مذاکرات کیږی هغه به د اوسنی حکومت او مسلحو مخالفینو تر منځ وي. دا بی تفاوته ده چې ددې حکومت مشران څوک دي. د موقتی اداری جوړول د افغانستان د بربادی سبب کیږی چې مخه یې باید په هره بیه چې وي ونیول شي.

پای